# پښتون رياليزم په پښتو شفاهي ادب کښې

## Realism In The Pashto Folk Poetry

ډاکټر نصيب الله سيماب*
ډاکټر عبدالله جان عابد♥

**Abstract:**

The literary theory of Pashto literatures has no clear coherence with the theories recognized globally.The theories and movements like Romanticism,Classicism,Marxism and Realism are adopted consciously and unconsciously.This paper deals with the analysis of the realist approach seen and felt in the Pashto folk poetry.the author has shared and elboarted the different geners of folklore and has constructed an analytical frame work.

که څوك غواړي چې د يو قام حقيقي تاريخ وګوري نو د هغۀ ادب دې وګوري، هغه که اولسي وي که تحريري، که غواړي چې د يو قام نفسيات وپېژني نو د هغۀ دپاره د هغۀ اولسي ادب ډېر زيات مرستندوئ دی. ځکه چې اولس بې له څۀ ملاوټه د خپل فکر اظهار کوي، د دې اظهار کولو پر وخت د هغۀ و مخته هيڅ يو ټاکلې نظريه نۀ وي بلکې د هغه معروض، اقدار، عقائد د هغۀ پر شخصيت او جذباتو باندې په شعوري او لاشعوري توګه داسې اغېزمن شوي وي چې کوم د دۀ داخل دی هغه رابرسېره کوي، يعني د خپل قوميت مزاج ورڅخه ښکاره کېږي. دا يو حقيقت دی چې د هرې ژبې په ادب :ښې د هغه مخصوص قام تهذيب د ثقافت، جغرافيه، سياسي او سماجي حالات او د قامي مزاج عنصر له ورايه ښکاره کېږي.

کله چې مونږ د نظرياتو په حواله خبره کوو په پښتو ادب کښې ټول نظريات تقليدي دي، د يوې او بلې خوا زمونږ ادب ته راغلي دي او پښتو ادب د خپلې خوښې شيان ورڅخه اخستي دي نور ئې نظريات پر خپله لاره ايله کړي دي. مونږ يوه داسې تقليدي نظريه نۀ وينو چې هغه دې په بشپړه توګه يو چا پلي کړې وي. که څۀ هم دعوېداران يې شته هم. د دې لامل له کبله دې تقليدي نظرياتو پښتو ادب ته د ابهام څخه پرته بل هيڅ

*د پښتو څانګې بلوچستان پوهنتون کوټې چئيرمين او ايسوسي ايټ پروفېسر دی
♥د پاکستاني لينګويجز علامه اقبال اوپن يونيورسټۍ چئيرمين دی.

نـۀ دي ورکـړي. د پښـتنو د ټـولنیز، اقتصـادي او تهـذیبي فکـر د یـو ځـای کولـو پـر ځـای د انتشار و خوا ته ورټېل کړې دی.

د محمد صدیق روهي دا خبره بلکل پر خپل ځای باندې سمه ده چې:

"پښـتون پـه هـر وخـت کښـې پـر خپلـه عقیـده ټینـګ پاتـه شـوی دی، هغـه هـیڅ داسـې تغیرتـه غـاړه نـۀ ده ایښـې چـې هغـه د دۀ پـر عقیـده اثـر انـدازه کیـږي، پښـتو ادب هـر وخـت ریالسـټك پاتـه شـوی دی ځکـه خـو د هـرې هغـه نظریـې نخښـې او نښـانې زمـونږ پـه ادب کښـې لیـدل کیـږي کـوم چـې د ژونـد لـه ریالسـټك اړخـو سـره پـه یـوه نـه یـوه حوالـه کـار لري"(1).

دا خبـره ښـځـي سـمه ده چـې پښـتون حقیقـت پـالونکی دی. سـوال دا دی چـې دا ریـالیزم (حقیقـت پسـندي) حقیقـت پالنـه مـونږ څنګـه پېژنـدلی شـو، د دې پېژنـدلو وروسـته مـونږ دا فیصله کولی شو چې پښتون ریالسټك دی که نۀ؟.

اوس راځـو د ریـالیزم مفکـورې تـه چـې دا مفکـوره لـه کـومې خـوا راځـي او څـۀ تعریـف لري؟.

"هغـه ټـول ادبـي اثـار چـې ژونـد یـې پـه واقعـي او رښـتیني ډول بیـان کـړی وي ریالسـټك بلل کیږي"(2).

پـه ادب کښـې دا فکـر ډېـر لرغـونی دی پـه یونـاني مفکرینـو کښـې افلاطـون د دې خښـته ایښـې ده چـې بنیـاد یـې د هـومر شـاعري ګرځېـدلې ده چـې د ادب د نـړۍ لـومړی معلـوم شـاعر دی. "پـه ادب کښـې شـیان، اشـخاص او واقعـات بـې لـه څـۀ تعصـب، عنیـت، موضـوعیت او رومانیـت څخـه صـفا پـه دیانـت او صـداقت د وړانـدې کولـو هڅـې تـه حقیقـت پسندي یا حقیقت نګاري وایي"(3).

د ژونـد لـه حقیقـت سـره تړلـي شـیان پـه دیانـت او صـداقت سـره وړانـدې کـول او د تعصـب څخـه کـار نـۀ اخسـتل د خپلـې انفـرادي خوښـې د مـلاوټ څخـه ځـان ژغـورل حقیقـت پالنـه ده. دا حقیقـت پالنـه د هـر قـام دپـاره جـلا جـلا وي. ځکـه چـې د هـر قـام معـروض جـلا جـلا دی. د هغـه عقیـدې جـلا جـلا دي. د هغـه روایـات جـلا جـلا دي او جغرافیـه یـې جـلا ده. دا ټـول شـیان د قـام پـه جوړېـدو کښـې لاس لـري، معـروض، عقیـدې، روایـات، جغرافیـه یـو قـامي نصـب العـین سـازوي چـې هغـه د ټـول قـام مشـترکه اساسـه وي یعنـې ګـډه شـتمني وي، هـم دا ګـډه شـتمني د هغـه قـام حقیقـي څېـره ده. دا څېـره پـه ادب کښـې انځـورول حقیقـت پالنـه ده او حقیقـت نګـاري د قـامي تشـخص د پیـدا کولـو باعـث ګرځـي. "د قلـم او

فکر خاوندان یو نصب العین د قام په مزاج او شعور کښې داسې اخښوي چې له هغه څخه قامي تشخص (پېژندګلوي) پیدا کیږي او دا تشخص تر پېړیو پورې قائم وي، او بیا دا تشخص قدرت د هغه قام د انحطاط پر وخت د قام د پاره د اخیري دفاعي حصار په بڼه کښې ځان ښکاره کوي"(4).

د پښتون قام دا تشخص یا پېژندګلوي پښتونولي ده. د پښتونولۍ د وضاحت ضرورت ځکه نهٔ شته چې په دې باندې هر پښتون ډېر ښهٔ پوهیږي. هم دا پښتونولي پښتون ریالیزم دی چې له مونږ څخه د صداقت او دیانت غوښتنه کوي، او د هغه د ملاوټ څخه د ژغورلو تقاضا کوي چې د مختلفو ادبي نظریاتو په بڼه کښې راغلي دي او پښتون ریالیزم یې د ابهام ښکار کړی دی. دلته دا پوښتنه رامنځ ته کیږي چې مونږ ته د نورو نظریاتو لاړ نیول په کار ده؟.

په دې حواله یوه خبره ډېره ښهٔ شوې ده. "کله چې یو فنکار خپلې فنپارې ته هیئت ورکوي یعني کاغذ ته یې سپاري بیا هغه د خپلې داخلي حلقې څخه راوزي او په عملي نړۍ کښې قدم ږدي نو بیا به د عملي نړۍ د ټولنیز او اخلاقي قدرونو خیال ساتي"(5).

هره نوې نظریه چې ستا د ټولنې اخلاقي او مثبت اقدار له مینځهٔ وړي لاړ یې نیول په کار ده که چرې هغه ته دوام بخښي، دوامي رویه یې خپلول په کار ده.

اوس مونږ د پښتو په شفاهي ادب کښې هغه نخښې ګورو چې پښتون ریالیزم ورڅخه ښکاره کیږي، لومړی یو څو ټپې ګورو، پښتنه پېغله د خپل لالي څخه څه غواړي؟.

په تور دکن کښې ځلی جوړ شه
د بې ننګۍ اواز دې را مه شه مینه (6)

پښتنه مور څهٔ رنګه د زوئ ارمان لري او څهٔ رنګه زوئ غواړي:

خدایه! بې ننګه زوئ را مه کړې
که په دیدن پسې ړنده په سترګو شمه(7)

د پښتني پېغلې په مينه کښې د ديدن په وخت هم د خپلې حيا خيال په هر قيمت ساتي لکه په نېغو سترګو هغه وخت و مين ته ګوري چې هغه يې نۀ شي ليدلی"(9)

ټټر مې يخ شو يار مې ړوند شو
اوس به يې په نېغو سترګو وکړم ديدنونه

پښتون پر خپل هوډ ټينګ دی هغه مرګ قبلوي خو کړی قول نۀ ماتوي ځکه خو پښتنه پېغله د پښتانۀ دا عمل داسې ستايي:

زما په خپل لالي باور دی
که د چړو په څوکو لار وي رابه شينه (10)

خو چې کله بې لوظي وکړي نو بيا تر دې عمل زغملو ورته د اشنا ژبه پرېکول اسانه وي.

ما له د ښاره قينچې راوړه
زۀ له بې لوظه ياره ژبه پرې کومه(11)

په پښتني ټولنه کښې چې کوم وګړي مېړانه نۀ لري، پر خپله خاوره، عقيده ټينګ ولاړ نۀ وي هغه ته موذي ويل شوی دی او موذي د دښمن په معنا دی. دا لاندې ټپې وګورئ:

اشنا ټپوس ناسته د باز کړي
زۀ کم دليله يې په ناسته غولېدمه (12)

موذي دې خوب پر پالنګ نه کړي
حق د هغو دی چې وطن په توره خورينه (13)

د مېړنـــــــــو خونـــــــــدي بـــــــــه ژاړي
د ســـــپي مـــــوذي خونـــــدې بـــــه ســـــترګې تورويــنـــــه (14)

دلتـه دا پوښـتنه هـم را مـنځ تـه کيـږي چې پـه دې کښـې د ايـډيااليزم څـرك ليـدل کيـږي. دا پوښـتنه سـمه هـم ده خـو ايـډيااليزم هغـه وخـت وي چـې تـش پـه تصـور کښـې موجـود وي هغـه چـې کـوم وخـت عملـي بڼـه واخلـي بيـا تـرې ريـااليزم جـوړ شـي. کـومې ټپـې چـې وړانـدې شـوې دا ټـول څـۀ پـه عملي بڼـه موجـود دي. پـه پښـتني ټولـنـه کښـې ځکـه مـونږ دې تـه پښـتون ايډيالوجي ويلی شو چې د پښتون رياليزم سره کار لري.

د شـفاهي ادب پـه دې ژانـر (صـنف) کښـې د پښـتونولۍ پـه حقلـه ډيـر څـۀ موجـود دي چـې لـه هغـه څخـه د پښـتني ټـولني مـزاج پـه ډيـره ښـه توګـه معلومېـدی شـي. د پښـتونولي او اسلام په حقله سيد تقويم الحق کاکاخېل ليکي:

"اسـلام دراصـل د پښـتو يـوه حصـه ده. پښـتون د قـوم پـه حېـث مسـلمان دی، پښـتانۀ غيـر مسـلم نـۀ ګڼـي او د پښـتانۀ نامسـلماني ورتـه ډيـره د شـرم خبـره ښـکاري پښـتو د يـو خـاص معاشـرت او تهـذيب نـوم دی. د اخلاقـو، عـاداتو د يـوې مجمـوعې چـې د هغـې نـه وتل د پښتو نه وتل دي"(15).

د پښـتانۀ ټـولنيز ژونـد، اخـلاق او عادتونـه د اسـلام سـره برابـر دي کـه تـوپير پـه کښـې ليـدل کيـږي هغـه د انګرېـز د راتـګ پـس ليـدل کيـږي هغـه پښـتونواله او اسـلام بېـل کـړل او پـه دې هتيـار يـې پښـتانۀ د فکـري بېلتـون و خـوا تـه پـورې وهـل چـې تـر ننـه پـورې پـه يـوۀ نـه يوۀ شکل کښې شتون لري.

د انګرېـز د راتـګ سـره چـې کلـه د انګرېـز پـه خـلاف مبـارزه شـروع شـوه هغـه وخـت ټـول پښـتانۀ هغـه کـه د هـر فکـر لرونکـي وو پـه دې مبـارزه کښـې پـه يـوه نـه يـوه شـکل کښـې برخـه واخسـته خـو کـومې کمزوريـانې چـې پـه پښـتانۀ کښـې د بـې علمـۍ لـه کبلـه موجـودې وې لـه هغـه څخـه انګرېـز د خپـل مقصـد دپـاره ګټـه اخسـتل شـروع کـړو. ځنـې خلـګ ئـې خپـل کـړل (وا ئـې خسـتل) د هغـه لـه لارې ئـې پـه پښـتانۀ کښـې د بېلتـون تخـم وپاشـۀ. کـوم خلـګ چـې د عصـري علومـو پلويـان وو، روښـن فکـره وو هغـه ئـې د اخسـتل شـوو خلګـو (ملايـانو) لـه لارې د فتـویٰ پـه تبـر ووهـل کـافران ئـې کـړل. چې اثـرات ئـې پـر ټـول نالوسـتي اولـس داسـې ولوېـدل چـې تراوسـه پـورې سـکول نـاروا ګڼـي. د پښـتنو ځنـې داسـې رسـمونه چـې هغـه پـه جغرافيـائي لحـاظ او کلتـوري لحـاظ پـه پښـتني ټولنـه کښـې شـتون درلـود د دې خلګـو لـه لارې د اسـلام

برخه یا مخالف وګرځېدل چې په قام کښې متنازعه وګرځېدل او د نزاع باعث شو. لکه لباس، د وادهٔ رسمونه، د خوشحالۍ رسمونه، اتڼ، ډهول، دریه او داسې نور. د انګرېز تر راتګ له مخه په دې حواله بحېثیت مجموعي اختلاف نهٔ ؤ. د ځنو خال واقعو څخه پرته.

په اولسي ادب کښې "متل" یو داسې شی دی چې له هغه څخه د یو قام د ژوند او رویې ډېر اړخونه څرګندیږي. دلته ګورو چې پښتون کوم مزاج لري ځکه چې: "له متلونو څخه د هر قوم د پوهې، تجربې او فکري لوړتیا اندازه معلومیږي ولې چې متلونه هغه پخې خبرې دي چې له ډېرو تجربو څخه په لاس راځي"(16).

"چې بد ګرځي بد به پرځي.
تر پروت زمري ګرځېدلی ګیدړ ښهٔ دی.
اول زده کړه بیا کوزده کړه.
اول سلام بیا کلام.
بلا له هغه پاخي چې یې ګړنګ تر پزې ځاځي.
مرګ له ایمان سره ښهٔ دی.
اسمان به ولاړ وي لاتې به مردار وي.
پر خوار مړي د قران ختم نهٔ کیږي.
پردی کټ تر نیمې شپې وي.
پردي خواړهٔ یا پور دی یا پیغور دی.
په درنو دروند په سپکو سپك.
په بدلو ځوك نهٔ لوییږي.
د خپل وطن ګیدړ د بل وطن تر زمري ښهٔ دی.
د خوار ملا مسئله څوك نهٔ اوري.
د علم برخه درنه ده.
یوه سترګه پر دین یوه پر دنیا.
د کور پیر چا ته نهٔ معلومیږي"(17).

په دې متلونو باندې غور وکړئ چې پښتون قام څومره طلائي خبرې لري او دا خبرې د وختونو د تجربو پس پخې شوې دي. په دې کښې دین شته، دنیا شته، علم

شـتـه، دولـت شـتـه، خپـل شـتـه، پـردی شـتـه، د دې ټولـو شـيـانو تعـين شـوی دی. پـه دې ټولـو متلونـو کښـې يـو متـل هـم داسـې نـۀ شـتـه چـې هغـه د پښـتـون د حقيقـي ژونـد ښـه نـۀ انځـوروي يـا دې د فکـر دويـې لـري، او يـا دې د داسـې روايـت پـه دائـره کښـې بنـد وي چـې هغـه تـه رجعـت ويـل کيـږي. يـا دې د ترقـي مخـه نيسـي، دا يـو بشـپړ فکـري نظـام سـازوي چـې لـه هغـه ځخه د پښتون قام حقيقت رامينځ ته کيږي.

اوس به غاړو ته راشو چې هلته کوم انځور زمونږ مخې ته راځي:

"راکښـــــته شـــــه لـــــه مېـــــزه :: زلزلـــــه راغلـــــه انګرېـــــزه

د ســـــپي تـــــر مړوښـــــې :: ناســـــته پـــــر بـــــې ده د پېکـــــي (18)

زمـــا د زړۀ پـــه ميـــان کښـــې ښـــوري :: د ګـــران نـــوم پـــه ځلـــور تـــوري

زړۀ مـــــي کړګـــــي دي اوبـــــړې :: ګـــــرځم د خلګـــــو لـــــه ســـــيالۍ

ټـــــك بـــــه واخلـــــي د لالا :: دواړه د يـــــوې مـــــوره پيـــــدا (18)

د بـــــل کـــــټ تـــــر نيمـــــې شـــــپې :: ګرانـــــه لـــــه خوبـــــه بـــــه کښـــــېنې

ارســـــلا غيـــــرت پـــــر کـــــړی :: د فيضـــــو کســـــات يـــــې کښـــــلی

اندېښـــــنې د نـــــۀ کـــــوي :: نـــــازك د ځـــــان و پېژنـــــي

اول لمـــــونځ دی بيـــــا روزه ده :: بيـــــا زکـــــواة او سرســـــايه ده

پـــــر لـــــونګۍ د ســـــوم غلطـــــه :: ګرانـــــه! يـــــم درملامتـــــه

یـــــوه ژبــــه یـــــوه پښتـــــتو :: پـــــر قـــــول ټینګـــــه ده ګرانـــــو

جنـــګ کـــوي پـــر ســـپین میـــدان :: تـــر جـــرمن ســـخت دی کلاخـــان

زۀ درځـــم کلـــی خبـــر کـــه :: کـــور پـــه کـــور توپکـــان ورکـــه" (19)

مینـه د پښـتانۀ پـه خـاوره کښـې اخښـلې ده. چـې د یـو قـام پـه رویـه کښـې دومـره زیاتـه مینـه وي هغـه څنګـه کـولی شـي چـې د نفـرت او کرکـې لار دي خپلـه کـړي چـې ارسـلا خـان د فـیض محمـد کسـات اخلـي دا کومـه جذبـه ده. د مینـې، د قـام دوسـتۍ، د صـله رحمـۍ، اسـلام دوسـتۍ پـه رشـته سـره تړلـي وو. ځکـه یـې بـدل اخلـي، بـدل یـې لـه بلـه د انګرېـز سـرکاره څخـه اخلي. کـه څۀ هم د پښـتنو پـه مینځ کښـې د یـو بـل سره بـدۍ موجـودې وې خـو دا بـدۍ دا رنګـه دي چـې د پښـتانۀ قـام بنیـادي ارزښـتونه ئـې تـر پښـو لانـدې کـول. د ښـځې، کوشـني، کـور تـه راغلـې دښـمن سـره کـار نـۀ درلـودل، دا ټـول اصـول موجـود وو. دا رنګـه جذبـه بـه پـه پښـتو پېغلو کښـې هم شـته. د قـام پېغلـه پت پـالي، قـول سـاتي، پـر لباسـي ژونـد پـر دروغـو او لاپـو بانـدې پسـخند وهـي د هغـه قـام ځوانـان بـه کومـه رویـه لـري، دا رنګـه د اتـڼ نارې هم دي چې د پښتون ملت رویه څرګندوي:

مســـــــتانې مغـــــــل نـــــــۀ یـــــــو پښـــــــتانۀ یـــــــو

یو ټکی اوبه راکه

مســـــــتانې برنـــــــي لـــــــه تنـــــــدي مـــــــړۀ یـــــــو (20)

ډیـــــــر مـــــــي درتـــــــه وژړل تـــــــه ولاړې

خپل وطن ته راسه

پـــــــر پردیـــــــو کنـــــــډوالو بـــــــه تـــــــر څـــــــو ژاړې

اســـپه یـــم نرکښـــه، پـــر میـــدان مـــه ترپـــوې نـــۀ ده یـــم خوښـــه

ما خپل ولات ته بوزه

پــــــر پـــــــردي ولات بـــــــه نـــــــۀ درواخـــــــم غوښـــــــه

چـــــــي واوړم تـــــــر تـــــــن ســـــــتا لمبـــــــې راواوړي
زۀ ستا پر لمبه وسوم
د دوزخ لمبـــــــې بـــــــه څـــــــۀ راځخـــــــه غـــــــواړي

وړوکـــــــې چـــــــې ليلـــــــى ليلـــــــى ده نـــــــوم دى
د اوښو په تګ مه ځه
هـــــــو ليلـــــــى د اوښـــــــو تـــــــګ پـــــــه شـــــــواخون دى

لـــــــه خپلـــــــه کـــــــوره څـــــــونې ليـــــــري ولاړم
په ورځ مي غم غلط وي
چـــــــې ماښـــــــام ســـــــي د اســـــــمان ســـــــتورو تـــــــه زاړم (21)

د وطـن او خـاورې پـه مينـه مست قـام څنګـه کـولى شـي چـې دا وطـن دې پـه وينـه سـور کـړي او کنـډوالې دي ورځخـه جـوړې کـړي. د پښـتون لـه خپـل وطـن سره مينـه داسـې نـۀ چـې علامتـي ده بلکـې يـوه داسـې حقيقـي ښـه لـري چـې څـرك يـې تاسـو پـه دې ټولـو ژانرونـو (صنفونو) کښې وليدل.

دا رنګـه چـې کـوم اولسـي شـعري اصـناف دي لکـه خـور ښـادي، سلسـلې، د بـي بـي دسـتې سـندري، د مروتـو کسـرونه او داسـې نـور، لـه بېلګـو څخـه يـې ځکـه ډډه کـوم چـې د مضـمون طوالـت مـي پـه نظـر کښـې دى. پـه دې ټولـو کښـې د مينـې، وررولـۍ، وطـن پـالنې، ديـن پـالنې، حقيقـي ښـه ليـدل کيـږي، هـم دا رنګـه د پښـتو اولسـي ادب کيسـې وګـورئ چـې د نکلونـو پـه نامـه پېژنـدل کيـږي. پـه دې نکلونـو کښـې مـومن خـان او شـېرينو، فـتح خـان او رابيـا، جـلات خـان او شـمايله، موسٰـى جـان او ګـل مکـۍ، طالـب جـان او ګـل بشـره، ظريـف خان او مابۍ، ادم خان او درخانۍ، مرد او نامرد او داسې نور.

او بـل تـر ټولـو لـوئ شـى پښـتونولي پـه خپلـه ده چـې د پښـتنو (کـوډ آف لائـف) د ژونـد اصـولونه دي چـې پـه هغـه کښـې اخـلاق او عـادات، د جنـګ قـوانين، برمتـه، ننـواتې، بـدل اخسـتل، غـزا، جرګـه، روغـه، ملـي غـرور، ملـي اسـتقلال، اتفـاق، سـادګي، مرسـته، يرغـل،

اشر او داسې نور چې دې ټولو شيانو کښې د پښتانۀ د ژوند اصول دي چې په ناليکلې بڼه کښې د پښتنو په زړۀ او ذهن کښې پراته دي. پر دې باندې عمل کول خپله ستره وظيفه ګڼي، چې څوك يې نۀ کوي هغه پښتون نۀ بلل کيږي، تر دې پورې د پښتانۀ فيصله که د کوچني جنګ وي که د بدۍ وي او که نورې شخړې، د عدالت له لارې نۀ دي هوارې شوې. عدالت که فيصله کړې هم وي تر څو چې د پښتانۀ پر کمبله خبره نۀ وي خلاصه شوې د عدالت فيصله د منلو وړ نۀ وي داسې ډېر مثالونه مونږ او تاسو په خپله روزمره ژوند کښې وينو.

د پښتانۀ نکاح، د ښځې ورکول، هيڅ شی په ليك کښې نۀ شته خو د هغه باوجود پر دې باندې عمل تر هر کار ډېر ښۀ کيږي. د پښتانۀ پښتو هر څۀ بلل کيږي. دا هغه شيان دي چې پښتون رياليزم (پښتني حقيقت پالنه) سازوي. اوس پوښتنه دا ده چې پښتون په حېث د يو قام خپله دا پېژندګلوي د يو نظريې په حېث، د يو مرام په حېث، د خپل قامي تشخص دپاره ولې نۀ رابرسېره کوي، په خپل ادب کښې په شعوري توګه ولې پرمختګ نۀ ورکوي، ايا! زمونږ د پښتنو د حقيقت پالنه، زمونږ د ديني اقدارو امين ده که ورکوونکې؟. د پښتني ثقافت د پرمختګ باعث ګرځي که د جمود؟. د علم څخه پښتون ليري کوي که يې ورنزدې کوي؟. پر دې پوښتنو غور وکړئ که ځواب په نفي کښې وي نو بيا مونږ د روشن فکرۍ، ترقي پسندۍ، رجعت پسندۍ، رومانويت، کلاسکيت او داسې نور ادبي نظريات د قامي تشخص په خاطر زښته زياته اړتيا لرو. د قامي تشخص څخه مراد هغه پېژندګلوي ده چې د هر قم ځان له ده، څۀ داسې خصوصيات چې بل قام ئې نۀ لري. ادب ته او ټولنې ته د نظرياتو راتګ او د هغه قبلول طبعي خبره ده په دې کښې شك نشته خو که قامي تشخص، يووالی او کلتور له منځه وړي لار ئې نيول په کار دي. که ځواب مثبت دی نو بيا په شعوري توګه د يو اديب په حېث مونږ خپله وظيفه ولې نۀ پوره کوو. مونږ که دې نظرياتو ته لار هوارول غواړو نو تر ټولو له مخه به قام ته علم راوړو، د علم په رڼا به ئې منور کوو چې قام په خپله د عصر سره په شعوري توګه مخ په وړاندې سفر وکړي. د ړاندۀ تقليد په توګه به ئې په ځان نۀ پسې کوو چې د سوال و ځواب کولو طاقت و نۀ لري.

❖❖❖

# حوالې

(1) روبینہ، شہزاد، ڈاکٹر، اردو تنقید میں پاکستانی تصور قومیت، مقتدرہ قومی زبان، 2007ء، ص51.

(2) روهـي، محمد صدیق، سریزه، نوې ادبي تیوري، محمد نبي صلاحي، د افغانستان د علومو اکېډمي، 1368ش، مخ 25.

(3) روهـي، محمد صدیق، ادبي څېړنې، ننګرهار، پوهنتون د ښوونې او روزنې پوهنځی، 1366ش، مخ 337.

(4) ابوالاعجاز، حفیظ صدیقی، کشاف تنقیدی اصطلاحات، مقتدرہ قومی زبان اسلام، 1985ء، ص 69.

(5) شمیم، احمد، زاویہ نظر، روبی پبلشرز کوئٹہ، 1987ء، ص16.

(6) ڈاکٹر، سید عبداللہ، اشارات تنقید، مکتبہ خیابان لاہور، 1955ء، ص109.

(7) شاهین، سلمیٰ، د پښتو ټپې معاشرتي او ثقافتي اثر، پښتو اکېډمي پېښور یونیورسټي، 88-1989ء، مخ 35.

(8) ایضاً، مخ 34.

(9) ایضاً، مخ 59.

(10) ایضاً، مخ 59.

(11) ایضاً، مخ 62.

(12) ایضاً، مخ 71.

(13) ایضاً، مخ 72.

(14) ایضاً، مخ 73.

(15) کاکاخېل، تقویم الحق، سید، د پښتو اولسي ژوند، پښتو اکېډمي پېښور یونیورسټي 1989ء، مخ 31.

(16) رښتین، صدیق الله، پښتو متلونه، د پښتو متلونه، محمد دین ژواك، پښتو ټولنه کابل، 1344ش، مخ ا، ب.

(17) ژواك، محمد دین، د پښتو متلونه، پښتو ټولنه کابل، 1344ش، مخ ج، ح.

(18) کاکړ، سیال، پروفیسر، نثري انځور، پښتو ادبي بورډ کوټه، 2005ء، مخ 115.

(19) ژړك، محمد صادق، کاکړې غاړې، پښتو ادبي غورځنګ، کوټه، س ن، مخ 319.

(20) عارف، سيد خير محمد، د اتڼ نارې، پښتو اکېډمي کوټه، 2005، مخ 93 تا 111.

(21) کاکړ، سيال، پروفيسر، نثري انځور، مخ 125.